# پیدایښت

## یعني اوّل کتاب دَ حضرت موسیٰ

## اوّل باب

۱ ۲ ۱ په ابتدا کښں الله آسمانونه او زمکه پیدا کړل ۲ او زمکه ورانه او
خالي وه او په مخ دَ ژورئ تیاره وه او دَ الله روح دَ اوبو په مخ
۳ ۴ رپیده ۳ او الله وویل چه رڼا دِ شي نو رڼا شوله ۴ او الله رڼا ولیدله
۵ چه ښه ده نو الله رڼا له تیاري نه بیله کړله ۵ او الله رڼا ته ورځ
وویله او تیاري ته ئې شپه وویله نو ماښام او صباح وړنبئ ورځ
۶ شوله ۶ او الله وویل چه دَ اوبو په مینځ کښں دِ فضا شي او اوبو به دِ له
۷ اوبو بیلي کاندِ ۷ نو الله فَضَا پیدا کړه او په مینځ دَ اوبو کښں چه دَ
فضا دَ لاندِ وي او دَ اوبو چه دَ فضا دَ پاسَ وي جدایي ئې وکړله او
۸ هم هغه شان وشه ۸ او الله هغه فضا ته آسمان وو ایه او ماښام
۹ او صباح دویمه ورځ شوله ۹ او الله وویل چه هغه اوبه چه دَ آسمان
دَ لاندِ دي یو ځاي دِ جمع شي او وچه دِ ښکاره شي او هم هغه شان
۱۰ وشه ۱۰ او الله وچي ته زمکه وویله او جمع شویو اوبو ته ئې قالي دریاب وو ایه
۱۱ او الله ولیدل چه ښه دي ۱۱ او الله وویل چه زمکه دِ واښه او
هغه بوټي چه تخم نیسِي او میوه داري وُنې چه دَ خپل جنس په شان
میوې نیسي چه خپل تخم په کښں په زمکه باندِ وي و ټوکوي او هم
۱۲ هغه شان وشه ۱۲ پس زمکي واښه او بوټي چه تخم دَ خپل جنس
په شان نیسِي او وني چه میوه نیسِي او تخم دَ خپل جنس په شان
۱۳ په کښں وِي وویستل او الله ولیدل چه ښه دي ۱۳ او ماښام او صباح
۱۴ دریمه ورځ شوله ۱۴ او الله وویل چه دَ آسمان په فضا کښں دِ نورونه

ښي چه دَ ورځې او دَ شپې په مېنځ کښې بېلتون وکاندِ او دَ نښانو او
۱۵ دَ وقتونو او دَ ورځو او دَ کالونو دَپارَ دِ ښي ۱۵ او دَ آسمان په فضا
کښې دِ نورونه ښي چه زمکه روښانه کړي او هم هغه شان وشه
۱۶ ۱۶ نو الله دوه لوي نورونه جوړ کړل لوي نور دَ ورځې دَ حکم دَپارَ او
۱۷ وړوکي نور دَ شپې دَ حکم دَپارَ او ستوري ئې هم ۱۷ او الله دوي
دَ آسمان په فضا کښې کېښودل چه په زمکه باندِ روښنائي وکړي
۱۸ ۱۸ او په ورځ او په شپه باندِ حکم وکاندِ او دَ روښنائي او دَ تیاري
۱۹ په مېنځ کښې جدائي وکاندِ او الله ولیده چه ښه دي ۱۹ او نماښام
۲۰ او صباح ځلورمه ورځ شوله ۲۰ او الله ووېل چه اوبه دِ ډېر زیات
کړي هسې ښناور چه ژوندون لري او مرغان چه دَ زمکې دَ پاس دَ
۲۱ آسمان دَ فضا په مخ دِ والوزي ۲۱ نو الله لوي نهنګان او ټول ژوندي
ښناور تلونکي هغه چه اوبو ډېر پیدا کړي وُو دَ هغو دَ جنس په شان
او ټول ښانګدار مرغان دَ هغه دَ جنس په شان ئې پیدا کړل او
۲۲ الله ولیده چه ښه دي ۲۲ او الله وله برکت ورکړ او ورته ئې ووېل
چه بار ونیسئ او ډېر شئ او دَ قالي دریاب اوبه ډکي کړئ او مرغان دِ
۲۳-۲۴ په زمکه ډېر زیات ښي ۲۳ نو نماښام او صباح پنځمه ورځ شوله ۲۴ او
الله ووېل چه زمکه دِ ژوندي ښناور دَ هغه دَ جنس په شان څاروي او
چینجي او ځنګلي ښناور دَ هغه دَ جنس په شان وباسي او هم هغه
۲۵ شان وشه ۲۵ نو الله دَ زمکې ښناور دَ هغه دَ جنس په شان او
څاروي دَ هغه دَ جنس په شان او ټول خوځېدونکي دَ زمکې دَ هغو دَ
۲۶ جنس په شان جوړ کړل او الله ولیده چه ښه دي ۲۶ او الله ووېل
چه موږ به انسان په خپل صورت او په خپل شان سره جوړوُو
چه دَ قالي دریاب په کبانو او دَ آسمان په مرغانو او په څارویو او
۲۷ په ټولي زمکې او په ټولو خوځېدونکو چه په زمکه خوځېږي حکم کوي ۲۷ نو الله
انسان په خپل صورت پیدا کړ دَ الله په صورت ئې پیدا کړ نر او ښځه

۲۸ ئې پیدا کړل ۲۸ او الله دوي له برکت ورکړ او دوي ته الله ووېل چه
بارداراو ډېر شئ او زمکه ډکه کړئ او لاندِ ئې کړئ او دَ قالي درياب
په کبانو او دَ آسمان په مرغانو او په ټولو ژونديو چه په زمکه ځي
۲۹ حکم کوئ ۲۹ او الله ووېل چه ګوره ما هر بوټي چه تخم نيسي تاسو
له درکړي دي دَ ټولي زمکي په مخ باندِ او هره ونه چه په هغي کښ
ميوه وِي هسي ونه چه تخم نيسي ستاسو دَپارَ به خوراک شي ۳۰ او
۳۰ دَ زمکي هر يو ځناور له او دَ آسمان هر مارغه له او هر يو تلونکي
له په زمکي چه په کښ دَ ژوندون ساه وِي ټول شنه وابښه مِ دَ
۳۱ خوراک دَپارَ ورکړي دِي او هم هغه شان وشه ۳۱ او هرڅه چه
الله جوړ کړي وُو وَئ ليدل او ګوره چه ډېر ښه دي او ماښام او
صباح شپږمه ورځ شوله ✣

# دويم باب

۲-۱ آ نو آسمانونه او زمکه او ټولي لښکري. دَدوي پوره شولي ۲ او الله
چه څه کار کاوه په اوومه ورځ ئې پوره کړ نو په اوومه ورځ له
۳ خپلَ ټوله کارَ چه ئې کاوه وزګار شه ۳ او الله اوومه ورځ مبارکه
کړله او پاکه ئې کړله ځکه چه دي له ټولَ کارَ خپله چه الله دَ جوړولو
۴ دَپارَ پيدا کړ په دغه کښ وزګار شه ۴ دا دَ آسمانونو او دَ زمکي دَ
پيدا کيدلو بيان دي په هغه وقت کښ چه دوي پيدا شوي دِي په
۵ هغه ورځ چه خداوند الله زمکه او آسمانونه جوړ کړل ۵ او هيڅ بوټي دَ
ميدان لا په زمکه کښ نه وُو او هيڅ وابښه دَ ميدان لا نه وُو
ټوکيدلي ځکه چه خداوند الله په زمکه باران نه وه ورَولي او نه سړي
۶ وه چه دَ زمکي خدمت وکړي ۶ نو له زمکي نه لړه پورته کيده او دَ
۷ زمکي ټول مخ به ئې اوبه کاوه ۷ او خداوند الله دَ زمکي له خاورو نه سړي
جوړ کړ او دَ هغه په سپږمو ئې ساه دَ ژوندانه پُو کړه او سړي ژوندي
۸ ځان شه ۸ او خداوند الله په عدن کښ نمرخاته ته يو باغ نهال کړ

۹ او هغه سړي چه ئې جوړ کړی وه هلته ئې وساته ۹ او له زمکي نه
هره ونه چه ښایسته ښکاریدله او په خوراک کښې ښه وه خداوند الله
وټوکوله او دَ باغ په مینځ کښې ئې هم دَ ژوندانه ونه او دَ نیکو او دَ بدو
۱۰ دَ پیژاندلو ونه ۱۰ او دَ باغ دَ اوبو کولو دَپارَ له عدن نه یو سیند ووت او له
۱۱ هغه نه څلور سرونه وویشلي شول ۱۱ دَ وړنبي نوم فیشون دي او هغه
۱۲ دَ حویلي په ټوله زمکه کښې وګرزیده چه سره زر هلته کیږي ۱۲ او دَ
۱۳ هغي زمکي سره زر کره دي او هلته ګوګل او بلور هم شته ۱۳ او
دَ دویم سیند نوم جیحون دي او هغه دَ کوش په ټوله زمکه کښې
۱۴ ګرزي ۱۴ او دَ دریم سیند نوم حِدَقیل دي چه دَ اَشُور په نمرخاته بهیږي
۱۵ او څلورم سیند فرات دي ۱۵ او خداوند الله سړي واخست او دَ عدن په
۱۶ باغ کښې ئې کښیناوه چه ئې خدمت او ساتنه کړي ۱۶ او خداوند الله سړي
۱۷ ته حکم وکړ و ئې ویل چه ته دَ باغ له هري ونې نه خوره ۱۷ لیکن دَ ښو
او دَ بدو دَ پیژاندلو له ونې نه مه خوره ځکه چه کومه ورځ چه له هغي
نه وخوري نو خواه مخواه به مړ شي
۱۸ ۱۸ او خداوند الله وویل چه ښه نه ده چه سړي یواځي وي زه دَ ده دَپارَ
۱۹ مددګار دَ ده په شان جوړوم ۱۹ او خداوند الله ټول څناور دَ میدان او واره
مرغان دَ آسمان جوړ کړل نو بیا سړي ته ئې حاضر کړل چه ووینې چه
دي ئې څه څه بولي نو چه سړي هر ژوندي نفس ته وباله نو هم هغه
۲۰ ئې نوم شه ۲۰ او سړي دَ ټولو څارویو او دَ آسمان دَ مرغانو او دَ ټولو دَ میدان
څناورو نومونه کیښودل ولې دَ سړي دَپارَ مددګار دَ هغه په شان موندې
۲۱ نه شه ۲۱ نو خداوند الله په سړي باندې درونند خوب وروست نو اوده شه
او دَ هغه له پښتو نه ئې یوه واخستله او دَ هغي ځاي ئې په غوښه
۲۲ ډک کړ ۲۲ او هغه پښتۍ چه خداوند الله له سړي نه آخستې وه ښځه
۲۳ ئې تر جوړه کړله او سړي ته ئې حاضر کړله ۲۳ نو سړي وویل چه دا
اوس هډوکي څما له هډوکو نه او غوښه څما له غوښو نه ده دا

٢٤ ښځه بللې شي چه له نر آخستې شوې ده ٢٤ له دې سبب سړی خپل
پلار او خپل مور پرېږدي او دَ خپلې ښځې سره پيوست شي او يو جثه
٢٥ کېږي ٢٥ او دواړه برمنډ وُو سړی او دَ هغه ښځه او دوي نه شرميدل +

## دريم باب

١ ١ او دَ ميدان له ټولو ځناورو چه خداوند الله جوړ کړي وُو مار ډير
مکار وه نو ښځې ته يې وويل چه دا رښتيا ده څه؟ چه الله ويلي دي چه
٢ دَ باغ له هرې ونې نه مه خورئ ٢ نو ښځې مار ته وويل چه دَ باغ دَ
٣ ونې له ميوې نه خورو شُو ٣ مګر له ميوې دَ هغې ونې چه دَ باغ په مېنځ
کښې ده الله ويلي دي چه تاسو ترې مه خورئ او مه ورله لاس وروړئ
٤ هسې نه چه مړه شئ ٤ نو مار ښځې ته وويل چه تاسو به هيڅرې مړه
٥ نه شئ ٥ بلکه الله پوهيږي چه کومه ورځ چه تاسو له دې نه وخورئ
نو ستاسو سترګې به پرانستې شي او تاسو به دَ الله په شان دَ ښو او
٦ دَ بدو پېژاندونکي شئ ٦ نو ښځې وليده چه ونه خوراک له ښه ده او
سترګو له خوشحالي ده او دَ پوهې بخښلو دَپارَ غوره ده نو دَ هغې له
ميوې نه يې واخسته او وې خوړله او خپل سړي له يې هم چه ورسره
٧ وه ورکړله نو هغه وخوړله ٧ نو سترګې دَ دواړو پرانستلې شوې او پوه شول
چه مونږ برمنډ يو نو دَ انځر پاڼې يې وګنډلې او دَ ځانونو دَپارَ يې لنګوټې
٨ جوړ کړې ٨ او دوي آواز دَ خداوند الله واوريد چه دَ ورځې دَ باد دَ الوتلو
په وقت کښې په باغ کښې ته نو سړي او ښځې يې دَ يَهوَه الله له مخ
٩ دَ باغ دَ ونو په مېنځ کښې پټ شول ٩ او خداوند الله سړي ته آواز وکړ
١٠ او ورته يې وويل چه ته چرته يې ١٠ نو وې ويل چه ستا آواز مې په
١١ باغ کښې واوريد نو ويريدم ځکه چه برمنډ يم نو ځان مې پټ کړ ١١ نو
وې ويل چه چا پوه کړې چه ته برمنډ يې له هغې ونې نه چه ما در
١٢ ته حکم کړې وه چه له هغې نه مه خوره خوړلې دِ دې څه؟ ١٢ نو سړي
وويل چه هغه ښځه چه تا ځما سره کړې وه هغې له هغې ونې نه ما

۱۳ له راکړه نو و مې خوړه ۱۳ نو خداوند الله ښځې ته ووېل چه دا دې څه وکړل
۱۴ ښځې ووېل چه مار وغولولم نو و مې خوړه ۱۴ پس خداوند الله مار ته
ووېل هرکله چه تا دا کار وکړ نو ته په ټولو څاروېو کښې او دَ
مېدان له ټولو ځناورو نه ملعون يې په خپله ګېډه به ځې او ټولې
۱۵ ورځې دَ ژوندون خپل خاورې به خورې ۱۵ او زه به ستا او دَ ښځې په
مېنځ کښې او ستا دَ اولاد او دَ هغې دَ اولاد په مېنځ کښې دښمنې واچوم
۱۶ نو دې به ستا سر ټکوې او ته به دده پونده چيچې ۱۶ او ښځې ته يې
ووېل چه ستا عذاب او ستا حمل به ډېر زيات کړم په عذاب سره به
اولاد راوړې او خپل سړي ته به دې شوق وي او دې به په تا بانډې
۱۷ حکم کوي ۱۷ او آدم ته يې ووېل چه هرکله تا دَ خپلې ښځې خبره واورېده
او له هغې ونې نه چه ما حکم کړې وه چه له هغې نه ته مه خوره-وخوړله
نو زمکه ستا په سبب لعنتې شوله ټولې ورځې دَ ژوندون خپل به ته
۱۸ په غم سره خورې ۱۸ او هغه به ستا دَپاره اغزې او مالکونډې وټوکوې
۱۹ او ته به دَ مېدان شينکې خورې ۱۹ ته به دَ خپل مخ په خولو سره ډوډې
خورې تر هغه پورې چه زمکې ته ورونګرزې چه ته ترې آخستلې شوې يې
۲۰ څکه چه ته خاورې يې او خاورو ته به ورګرزې ۲۰ او آدم دَ خپلې ښځې
۲۱ نوم حوّاء وباله څکه چه دا دَ ټولو ژوندو مور ده ۲۱ او خداوند الله دُ آدم او
دَ هغه دَ ښځې دَپارَ له څرمنې جامې جوړې کړلې او دواړو ته يې واغوندولې
۲۲ ۲۲ او خداوند الله ووېل چه اوس آدم لکه يو له مونږ دَ ښو او دَ بدو
پېژاندونکې شه هسې دې نه وي چه خپل لاس اوږد کړي او دَ ژوندانه له
۲۳ ونې نه هم څه واخلي او وخوري او تر ابدَ ژوندي پاتې شي ۲۳ نو خداوند
الله دې دَ عدن له باغ نه ووېست چه دَ هغې زمکې چه دې ترې آخستې شوې
۲۴ وه خدمت وکړي ۲۴ پس آدم يې وشاړه او دَ عدن دَ باغ په نمرخاته
کرّوبيان او برېښېدونکې ګرزېدونکې توري دَپارَ دَ ساتنې دَ لارې دَ ونې
دَ ژوندون يې ودرول ❖

PENTATEUCH IN PASHTU.
TRANSLATED BY THE REV. WORTHINGTON JUKES.
PESHÁWUR.

THE BRITISH AND FOREIGN BIBLE SOCIETY.
LONDON.

1890.